د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

# ږغونه

اونیزه د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د ربیع الثاني ٤ مه، ١٤٤٧ هـ.ق کال
وږی/میزان ٥ مه، ١٤٠٤ هـ.ش کال

لومړی کال، پرله پسې ٣٢مه ګڼه


## په دې ګڼه کې لولئ:


غزني — غزني ښاروال د وکیلانو سره غونډه ترسره کړه

لوګر — شاوخوا دوه نیم میلیونه افغانیو په ارزښت د اوسپنیزو کټارو د نصبولو چارې پیل شوې

ننګرهار — خوږیانو ښاروالۍ تر کار لاندې دوه پروژې رواني دي

هرات — هرات ښاروالۍ پنځمې ناحیې اړوند بهزاد واټ لویدیځې غاړې کانال د جوړولو پروژې چارې رواني دي

غزني — د غزني ښار شمس صاحب سړک ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

غزني — د غزني ښار شپږمې ناحیې ودانۍ د جوړولو چارې په چټکۍ رواني دي

بلخ — مزارشریف ښار کې د ترافیکي څراغونو د عصري او ډیجیټلي کېدو بهیر پیل شو

لغمان — د مشرتابه ۱۷مه ګڼه فرمان د لغمان ولایت په مختلفو ساحو کې نصب شو

بلخ — مزارشریف کې د امارت سړک څخه تر پنجشېر ګذر پورې د سړک جوړولو چارې په چټکۍ سره رواني دي

بلخ — کار بازسازی چهارراهی کمال نبی زاده تکمیل و به بهره برداری سپرده شد

کندهار — کندهار ښار پنځمه ناحیه کې د کانال سنګکاري چارې رواني دي

پکتیا — ګرديز ښار کې د نږدې ۲۵ میلیونه افغانیو په لګښت د یوې پروژې چارې پیل شوې


## مزارشریف ښار کې د یوې کوڅې جوړولو چارې د ۷ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوې




## دریېمې ناحیه کې د انجیل ښاروالۍ اداري و دانۍ د جوړولو چارې په چټکۍ سره رواني دي




## پل علم ښار کې د نږدې ۷ سوه زره افغانیو په ارزښت د یوې پراختیايي پروژې چارې پیل شوې



## غزني ښاروال د وکیلانو سره غونډه ترسره کړه


غزني ۱

ښاروال د غونډې پر مهال وویل چې وکیلان د ولس استازي دي او د هغوی نظریات او وړاندیزونه د ښار د ستونزو په حل او د ښاري خدمتونو په ښه والي کې ځانګړی رول لري.

نوموړي ټينګار وکړ چې د ښاروالۍ دروازې د وکیلانو او خلکو پر مخ پرانستي دي او هڅه کوي چې د هرې ناحیې ستونزې په منظم ډول تر څېړنې لاندې ونیسي او حل لارې ورته ومومي.

په غونډه کې وکیلانو هم د خپلو سیمو د خلکو ستونزې او غوښتنې د ښاروالۍ له مشرتابه سره شریکې کړې او ژمنه يې وکړه چې د ښاري نظم او خدمتونو په برخه کې له ښاروالۍ سره پوره همکاري وکړي.

## محمودراقي ښاروالۍ له لوري د ښاروالانو شبکې غونډه ترسره شوه


کاپیسا ۲

د ښاري خدمتونو د همغږۍ، چارو د چټکتیا او د ښاریانو د ستونزو د حل په موخه د ښاروالانو شبکې غونډه د محمودراقي ښاروال مولوي عبیدالله "حسام" په مشرۍ او د ولسوالیو ښاروالانو په ګډون د نجراب ښاروالۍ کې جوړه شوه.

ښاغلي حسام د غونډې د اهمیت په اړه خبرې وکړې او د ښاروالانو ترمنځ همغږۍ يې د ښاري خدمتونو د ښه والي لپاره مهمه وبلله.

د اجنډا له مخې، په غونډه کې د امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) د ۲۰ شمېرې فرمان د تطبیق څرنګوالی، د کوهبند ولسوالۍ د صنفي جوازونو توزیع، د کوڅه‌دبو سپو د له منځه وړلو او یو شمېر نورو ښاري او ټولنیزو مسایلو په اړه بحث وشو.

## مدیریت حکومتداری شهری شاروالی ولسوالی محمد آغه ولایت لوگر صندوق های شکایات را در بازار های واغجان، پل قندهاری و بازار زاهدان آباد جهت رسیدگی به مشکلات بازارهای مذکور نصب کرد.



لوګر ۳

## شاوخوا دوه نیم میلیونه افغانیو په ارزښت د اوسپنیزو کټارو د نصبولو چارې پیل شوې


لوګر ۴

د لوګر ولایت پل علم ښاروالۍ له لوري د پل علم ښار اړوند په دوه برخو کې هوني سفلی او د ولایت مقام ته څېرمه د ۲۱۰۰ مترو په اوږدوالي د سړک منځ ګلدان د اوسپنیزو کټارو د نصبولو چارې د پل علم ښاروالۍ له داخلي بودجې څخه د قراردادي شرکت لخوا پیل شوې.

د پل علم ښاروالۍ د تخنیکي او مسلکي لوی مدیریت د معلوماتو پر بنسټ، په یادو اوسپنیزو کټارو شاوخوا دوه نیم میلیونه افغانۍ لګښت راځي، چې د قراردادي شرکت له لوري به يې چارې د دوه میاشتو په موده کې بشپړې شي.

## شاروالی هرات تفاهمنامه همکاری دو جانبه را به‌منظور ایجاد زمینه‌های همکاری بیشتر میان شاروالی و سکتور خصوصی با بنیاد خیریه و مؤسسه تحصیلات عالی عاطفی در دفتر شاروالی با حضور هیئت رهبری و مسئولان بنیاد خیریه عاطفی امضاء کرد.


هرات ۵

## ګرشک ولسوالۍ کې د نوي بازار اړوند سړکونو د رغونې چارې پیل شوې


هلمند ۶

د هلمند ولایت د ګرشک ښاروالۍ له لوري د ښاري پراختیا په موخه، د نوي بازار اړوند د سړک جوړونې پروژه پیل شوې ده.

یاده پروژه د نوي بازار د پای سړک او د میلمستون سړک رغونه رانغاړي، چې ټولټال ۱۷۸۷ متره اوږدوالی لري. سړکونه به د ویالې، پلې لارو او معیاري ښاري بڼې سره سم په دوه میاشتو کې بشپړ شي.

همدارنګ، ښاروالۍ پلان لري چې ډېر ژر د زوړ بازار، نوزاد او موسی قلعه اډې په سیمو کې هم انکشافي پروژې پیل کړي.

## خوږیانو ښاروالۍ تر کار لاندې دوه پروژې رواني دي


ننګرهار ۷

د ننګرهار ولایت د خوږیانو ښاروالۍ له لوري دا مهال دوه مهمې پرمختیایي پروژې تر کار لاندې دي.

لومړی پروژه د پلچکونو جوړول دي، چې موخه يې د خلکو د تګ راتګ اسانتیا او د سړکونو د دوامداره ښنلول تضمینول دي.

دویمه پروژه بیا په چمتلي ښارګوټي کې د سولري برېښنا پایو نصبول دي، چې د سیمه ییزو اوسېدونکو د روښنایي ستونزې به پرې هواري شي.

د خوږیانو ښاروالۍ وايي، یادې پروژې د ښاریانو د هوساینې او ښاري خدمتونو د پراختیا په هدف عملي کېږي او کارونه يې په منظم ډول روان دي.

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

# رغونه
اونیزه

د ولایاتـــو او ولســـوالیو ښـــاروالیو د فعالیتونو او
لاسته راوړنو خبري اونیزه

## هرات ښـــاروالۍ پنځمې ناحیې اړوند بهزاد واټ لویدیځې غاړې کانال د جوړولو پروژې چارې روانې دي


هرات ۸

د هرات ښـــاروالۍ د پنځمې ناحیې اړونـــد بهزاد واټ د لویدیځې برخې کانال د جوړولو پروژې چارې د ۱۴۵۰ متر په اوږدوالي او (۰.۹ × ۱.۱۷ متر) ابعادو د هرات ښاروالۍ پرمختیایي بودجې څخه د ٦،٥ میلیون افغانیو په ارزښت د پلي کېدو په حال کې دي.

د هرات ښاروالۍ د تخنیکي او مسلکي ریاست د مسؤولینو په وینا دغه پروژه د سطحې اوبو د مدیریت او ښاریانو ته د اسانتیا برابرولو په موخه پلي کېږي.

د ویلو ده، چې د هرات ښاروالۍ انجنیران او مسؤولین په منظم او دوامداره توګـــه د پراختیایي پروژو د کار له بهیره وخت په وخت څارنه او کنټرول ترسره کوي، ترڅو د پروژو چارې د په خپل ټاکلي مهال بشپړې شي.

## جلســه کمیته مبارزه علیه فســاد اداری توســط شاروالی محمودراقی برگزار گردید


کاپیسا ۹

به منظور تقویت شـــفافیت در امـــور اداری، جلوگیری از سوءاســـتفاده و ایجاد هماهنگی در رونـــد ارائه خدمات شهری، جلسه کمیته مبارزه علیه فساد اداری تحت ریاست مولوی عبیدالله حسام، شـــاروال محمودراقی با اشتراک اعضای کمیته در شاروالی محمودراقی دایر گردید.

شـــاروال محمودراقی در مورد موضوعات مرتبط با بهبود سیســـتم نظارتی، تسریع در رونـــد خدمات، جلوگیری از ســـوءمدیریت و همچنان طرح های آینده جهت نهادینه ســـازی شـــفافیت اداری صحبت نموده و بحث صورت گرفت.

## هوتل مدرن و مجهز بنام آســیا در ولایــت بامیان آغاز به فعالیت کرد


بامیان ۱۰

هوتل مدرن و مجهز بنام آســـیا در ولایت بامیان با حضور مسئوولین، علمای کرام، بزرگان قومی، جوانان، اصحاب رسانه و اقشـــار مختلف جامعه که توسط شاروالی بامیان اعمار گردیده است به‌گونه رســـمی افتتاح و رسما آغاز به فعالیت نمود.

مولوی محمد اسحق آخندزاده، رئیس عمومی انسجام امور شـــاروالی‌های اداره امور از زحمات و مدیریت مؤثر شـــاروالی بامیان قدردانی نمود و افتتـــاح این پروژه را نمونه روشـــنی از گام عملی و مؤثر در توسعه زیرساخت های شهری بامیان خواند.

الحاج مولوی عبدالله سرحدی، والی ولایت بامیان با ابراز خرسندی از تکمیل این پروژه، اعمار این هوتل را گام مؤثر در راســـتای بهبود کیفیت زندگی، فراهم‌سازی خدمات معیاری برای شهروندان و گردشگران و تقویت زیرساخت های اقتصادی و گردشگری در مرکز بامیان عنوان نمود.

قابل یادآوری است که این هوتل با هزینه مجموعی ۱۲۰ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی بامیان تمویل گردیـــد که آماده ارائـــه خدمات معیاری به شـــهروندان، گردشگران داخلی و خارجی، برگزاری سمینارهای دینی، علمی و آموزشی، فرهنگی و محافل خوشی شهروندان می باشد.

## اطلاعیه مطبوعاتی

شـــاروالی شـــهر چاریکار کانکریت‌ریزی دو جاده فرعی در نواحی پنجم و ششـــم شهر چاریکار را به ارزش ۲۰ میلیون افغانی از بودجه داخلی شاروالی چاریکار فردا طی محفلی رسمی آغاز می‌کند.

بدین‌وســـیله از تمام رســـانه‌های ملـــی و محلی صمیمانـــه دعوت به‌عمل می‌آید تا جهت پوشـــش خبری این برنامه در مراســـم افتتـــاح حضور به‌هم رسانند و پیام خدمت‌رسانی

پروان ولایت

## د غزني ښـــار شـــمس صاحب ســـړک ګټې اخیستنې ته وسپارل شو


غزني ۱۱

د غزني ښاروالۍ ریاست د ښاري پراختیا په لړ کې د ښار د لومړۍ ناحیې اړوند د شمس صاحب سړک رغونه چې د ملګرو ملتونو د دفتر په مالي ملاتړ عملي شـــوې وه بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

یاد سړک چې د نواباد له اصلي سړک څخه د شمس مدرسې ته غځېدلی ۵۳۳ متره اوږدوالی او ٦ متره سور لري.

## کمیته کنترول و تحکیم نظم شهری، کار عملی تخلیه کراچی‌های دست‌فروشـــان را از پیاده‌روهای مارکیت های چهار اطراف روضه مبارک آغاز کردند که در جریان این عمل کراچی ها از مسیر پیاده‌روها انتقال داده شد و به دست‌فروشـــان توصیه گردید تا به ساحات بدیل تعیین‌شده توسط شاروالی نقل مکان نمایند.


مزارشریف ۱۲

## د غزني ښار شپږمې ناحیې ودانۍ د جوړولو چارې په چټکۍ روانې دي


غزني ۱۳

غزني ښـــاروالۍ د خپلو داخلي عوایدو له لارې د ښـــار د شپږمې ناحیې لپاره یوه معیاري ودانۍ جوړوي.

یاده پروژه د نواباد په ســـیمه کې د ۱۱ میلیونو افغانیو په مالي لګښـــت عملي کېږي چې د ښـــاروالۍ د عوایدو د مدیریت او د ښـــاریانو د اړتیـــاوو د پوره کولو په موخه پیل شوې ده.

د ودانۍ چارې اوس مهـــال د دېوالونو جوړولو او د پایو د ســـیخو اېښـــودلو په پړاو کې دي او په چټکۍ سره پر مخ روانې دي.

## مزارشریف ښار کې د ترافیکي څراغونو د عصري او ډیجیټلي کېدو بهیر پیل شو



بلخ ۱۴

د ښاري نظم، ترافیکي پېښو او ګڼه ګوڼې د مخنیوي په موخه، د مزارشریف ښاروالۍ لخوا د بلخ ولایت ترافیکو مدیریت سره په همغږۍ د ښار په کچه د ۱۹ ترافیکي څراغونو د عصري او ډیجیټلي کېدو چارې د ښاروالۍ د پراختیایي بودجې څخه د ۷ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې.

یاده پروژه کې د ترافیکي څراغونو عصري او ډیجیټلي کېدل، د پایو رنګمالي، کرښې اچونې (روډ مارکینګ) او د یو کال لپاره ساتنه او مراقبت پکې شامل دي، چې د باسط بلال قراردادي شرکت له لوري په درې میاشتو کې پلي کېږي.

د یادې پروژې په بشپړېدو سره به ښاري نظم رامنځته شي او د ترافیکي پېښو او ګڼه ګوڼې مخه به ونیول شي.

## نشستی با نمایندگان هوتل های ولسوالی شکردره ولایت کابل با اشتراک شاروال و کارمندان شاروالی شکردره دایر گردید که در آن در مورد موضوعات مختلف بحث و گفتگو صورت گرفته و فیصله های لازم صورت گرفت.



شکردره/کابل ۱۵

## د مهترلام ښاروالۍ خبرتیا!

د لغمان ولایت مهترلام ښاروالۍ د دویمې ناحیې اړوند د لغمان اقوامو او قبایلو ریاست مخې د سرک دواړه غاړې پلې لارې د جوړېدو او په یاده ساحه کې د بریښنایي تنویري پایو د لګولو چارې په قرارداد ورکوي، هر هغه شرکتونه چې په شرایطو برابر وي او د یاد قرارداد د نیولو لېوال وي، خپل غوښتنلیکونه دې د اعلان له نشر څخه تر ۲۱ ورځو پورې د مهترلام ښاروالۍ د تدارکاتو او خدمتونو مدیریت ته وسپاري.

لغمان ولایت

## شاروالی زرنج نشستی را به منظور تقویت فرهنگ شهر نشینی برگزار کرد



نیمروز ۱۶

شاروالی زرنج نشستی را به منظور تقویت فرهنگ شهر نشینی ، آگاهی دهی فرمان نمبر ۱۷ امیر المومنین حفظه الله و انتخاب نماینده صنف پرزه‌فروشان و موترسایکل‌سازان با حضور مسئوولین شاروالی و نمایندگان صنوف در شاروالی زرنج برگزار کرد.

آمر حکومتداری شهری از نقش فعال اصناف در رعایت نظم شهری، جلوگیری از تخلفات و پاکیزه نگهداشتن محیط زندگی شهری ستایش نمود و خواهان همکاری مؤثر آنان با کارمندان شاروالی در تنظیم بازار و نظم عامه شد.

## د مشرتابه ۱۷مه ګڼه فرمان د لغمان ولایت په مختلفو ساحو کې نصب شو



لغمان ۱۷

د چارو اداري لوی ریاست د مطبوعاتو ریاست او د مهترلام ښاروالۍ په همکارۍ د لغمان ولایت د مرکز په شمول په ټولو ولسوالیو کې د مشرتابه د ۱۷مې ګڼې فرمان د عملي کولو او تطبیق په موخه د عامه پوهاوي بنرونه ولګول شول.

د مطبوعاتو ریاست له لوري د راغلي پلاوي د معلوماتو له مخې، دوی د لغمان مرکز، ولسوالیو او عمومي لارو کې د یاد فرمان په اړه بنرونه لګولي، څو خلک ترې ښه اګاهي ترلاسه او د مشرتابه ۱۷مه ګڼه فرمان په خپلو ورځنیو چارو کې عملي کړي.

په ۱۷مه ګڼه فرمان کې ټینګار شوی، چې د ښېښو، ودونو، مصیبتونو، او همدارز د حج او عمرې له راستنېدو پر مهال باید له هغو ناسم او سترپا جوړونکو دودونو څخه ډډه وشي، کوم چې د خلکو پر اقتصاد او ټولنیزو ارزښتونو ناوړه اغېز لري.

مهترلام ښاروالۍ له لوري په یوې پراخې غونډه کې یاد فرمان اصنافو، ګذر وکیلانو او ښاریانو ته هم تشریح شوی او له هغوی څخه یې د عملي کولو په موخه غوښتنه شوې.

## مزارشریف ښار کې د یوې کوڅې جوړولو چارې د ۷ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوې



مزارشریف ۱۸

د مزارشریف ښار پراختیا او معیاري ودې په موخه د مزارشریف ښاروالۍ لخوا او د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د دفتر په مالي مرسته د مزارشریف ښار ۸مې ناحیې د دشت شور شلمې کوڅې جوړولو عملي چارې پیل شوې.

نوموړې کوڅه ۵۵۰ متره اوږدوالی او ٦ متره سور لري چې هره ورځ ۱۳۰ تنو ښاریانو ته د کار زمینه برابره شوې.

همدارنګه نوموړې پروژه کې د پلچکونو او لښتیو جوړول هم شامل دي چې رغنیزې چارې به یې د دوه میاشتو په موده کې بشپړې شي.


د نوموړې کوڅې رغنیزو چارو په بشپړېدو سره به ښاریانو او لېږدونکي وسایط ته د تګ راتګ ګڼې اسانتیاوې برابر شي.

## کار کانکریت ریزی گذرهای (٦، ۱۲، ۱۴ و ۱۵) کنار جوی انجیل ولایت هرات به طول مجموعی ۱۹۰۰ متر در عرض ۸ متر با احداث پلچک‌های آن در موقعیت های مختلف ناحیه ششم شهر به هزینه مجموعی ۱۷ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی جریان دارد.



هرات ۱۹

## شاروالی مزارشریف کار ساخت و سنگ کاری گلدان مقابل رسته چینی فروشی شروع از دروازه شرقی روضه مبارک الی چهارراهی مقابل شاروالی را آغاز گردید که شامل ساخت و نصب کتاره های فلزی و پایه های تنویر و تزئین، سنگ کاری پیاده روها، سرسبزی و رنگمالی می‌باشد و در مدت یک ماه کاری تکمیل و به بهره برداری سپرده خواهد شد.



بلخ ۲۰

## د هلمند ولایت مرکز لښـکرګاه ښار کې د ښاروالۍ اړونـد ځینې ناحیو کې د ښـاروال پــه هدایت د تنظیـف مدیریت لــه لوري کثافـات داني نصب شوي.



هلمند ۲۱

## په قلات ښاروالۍ کې د یو محراب مسجد د جوړېدو چارې پیل شوې



زابل ۲۲

د زابل ولایت قلات ښاروالۍ د خپلو کارکوونکو او مراجعینو د دیني اړتیاوو پوره کولو په موخه د یو محراب مســـجد د جوړولو چارې پیل کړې.

د دې مسـجد د بنسټ ډبره د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې کېښودل شوه، چې په کې د ښاروالۍ مسؤولینو، د اقتصاد ریاســـت رئیس، د پروژې انجنیرانو او یو شمېر نورو دولتي چارواکو ګډون کړی و.

یاد مسجد به د ښاروالۍ په انګړ کې د ښاروالۍ له بودجې خـــخه جوړ شي. چارواکـــي وایي، دا پـــروژه به د لمانځه مناسب ځای برابر کړي او د معنوي ارزښتونو په پیاوړتیا کې به مهم رول ولوبوي.

## د ښاري نظم ټینګښت په موخه نظارت چارې ترسره شوې



ارزګان ۲۳

ترینکوټ، کامي او چېرهار ښاروالیو له لوري، د ښار له بیلابېلو ســیمو څخه د ښــاري نظم ټینګښت په موخه تنظیف او نظارت چارې ترسره شوې.

## داوطلبی خبرتیا!

د کندهار ښـاروالۍ ملکیـت د ۹ ناحیې اړوند د الکترونیکـي تذکـرو دوهم زون مخته د وســایطو پارکینـګ د شرطپاڼې مطابق د یــوه کال لپاره د ازادې داوطلبۍ له لارې په اجاره ورکوي. ټول هغه اشـــخاص چې پر شرایطو برابر وي او غواړي په داو طلبۍ کې ګډون وکړي خپل غوښتلیکونه دې د ( ۱۴۰۴ ) کال د ســنبلې میاشـــتې د ( ۲۹ ) نېټې څخه د میزان میاشـــتې تر ۳ نېټې پورې د کندهار ښاروالۍ د تدارکاتو او قراردادونو آمریت ته وسپارې او بعداً دې شرطپاڼه د مدیریت څخه تر لاسه کړي. داجـــارې له سرجمع څخه ۴۰ فیصده تضمین نقدا اخیستل کېږي او د داوطلبۍ مجلس د جارې کال د میزان میاشـــتې پر ۵ نیټه د دوشـــنبې په ورځ سهار پر ۹ بجو د تعین شوې هیئت په حضور کې د تدارکاتو او قراردادونو په امریت د ښاروالۍ ریاست کې صورت نیسي.

د نورو معلوماتو لپاره پر لاندې شمیرو اړیکه ونیسئ.
واټساپ ۰۷۰۷۱۵۹۷۱۸
۰۷۰۰۴۳۳۵۶۷

کندهار ولایت

## په قلات ښاروالۍ کې د یو محراب مسجد د جوړېدو چارې پیل شوې




زابل ۲۴

د زابـــل ولایت قلات ښــــاروالۍ د خپلــــو کارکوونکو او مراجعینو د دیني اړتیاوو پوره کولو په موخه د یو محراب مسجد د جوړولو چارې پیل کړې.

د دې مسجد د بنسټ ډبره د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې کېښودل شـــوه، چې په کې د ښـــاروالۍ مسؤولینو، د اقتصاد ریاســـت رئیس، د پروژې انجنیرانو او یو شمېر نورو دولتي چارواکو ګډون کړی و.

یاد مســـجد به د ښـــاروالۍ په انګړ کې د ښاروالۍ له بودجې څخه جوړ شي. چارواکـــي وایي، دا پروژه به د لمانځه مناسب ځای برابر کړي او د معنوي ارزښتونو په پیاوړتیا کې به مهم رول ولوبوي.

## درېیمې ناحیه کې د انجیل ښاروالۍ اداري و داني د جوړولو چارې په چټکۍ سره روانې دي




هرات ۲۵

د هرات ولایت انجیل ښاروالۍ اداري و داني په یو پوړه کې پرامختیایي بودجې څخه د ۱۷۶۶۸۰۰ افغانیو په ارزښت د جامې متین ساختماني شرکت له لوري ودانېږي.

یاده پروژې شاوخوا ۱۰ ســـلنه چارې پر مخته تللي او د پروژې کار د شرطپاڼې او د قرارداد د مندرجاتو سره سم په منظم ډول په لوړ کیفیت روانې دي او تاکل شوې د قراردادي شرکت له لوري په درېو تقویمي میاشتو په ترڅ کې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## د لغمان قرغیو ولسوالۍ مسؤولینو سره د ۱۷مې ګڼې فرمان په تړاو د عامه پوهاوي ناسته تر سره شوه



لغمان ۲۶

د ۱۴۰۴ کال د وږي میاشتې په ۲۹مه نېټه د چارو اداري لوی ریاست د مطبوعاتو ریاست پلاوي لغمان ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د قرغیو ولسوالۍ ولسوال او ښاروال سره بېلابېلې ناستې ترسره کړې او د ۱۷ مې ګڼې فرمان په تړاو یې ورسره معلومات شریک کړل.

غونډه کې د یاد پلاوي له لوري په سیمه کې د ناوړه دودونو د زیانونو او له هغه څخه د را پیدا کېدونکو ســتونزو په اړه بحث وشو.

وروسته د قرغیو ولسوالۍ والســـوال قاري حضرت ګلاب عاصم تللي پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ مننه وکړه او څرګنده یې کــړه، د ۱۷ مې ګڼې فرمــان تطبیق د ناوړه دودونو څخه د مخنیـــوي یواځینۍ لاره ده او په دې برخه کې باید ټول یو بل ته لاس ورکړي.

هغه د چارو اداري لوی ریاست د مشرتابه څخه د یاد فرمان د عامه پوهاوي په تړاو د هڅو ستاینه وکړه او تللي پلاوي ته یې د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ.

د دې ترڅنګ د یادې ولسوالۍ ښاروال خالد شریفي د یاد فرمـــان په تړاو د عامه پوهاوي په هکله وویل: چې دوی به هم له ټولو ولسونو سره په بېلابېلو ناستو کې د ناوړه رواجونو د زیانونو او له هغې د مخنیوي لپاره فعالیتونه ترسره کړي.

په پای کې ګډونوالو سره د ۱۷ مې ګڼې فرمان چاپ شوې نســـخې هم شریکې شوې؛ ترڅو یې له نورو سره شریکې کړي.

رغونه اونیزه

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


## پل علم ښار کې د نږدې ۷ سوه زره افغانیو په ارزښت د یوې پراختیایي پروژې چارې پیل شوې


لوګر ۲۷

د پل علم ښاروالی له لوري د پل علم ښار اړوند د بابوس ویالي پورته په نوې پروژه کې د ۲۵۰ متره په اوږدوالي سره د لښتیو او ٦ کوچنیو پلچکونو د جوړولو چارې د پل علم ښاروالی له داخلي بودجې څخه پیل شوې.

د پل علم ښاروالی د تخنیکي او مسلکي چارو لوی مدیریت د معلوماتو پر بنسټ، د یادې پروژې ټولیز ارزښت (٦٧٦٦٤٠) افغانۍ دی چې چارې به یې په دوه میاشتو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.

## مزارشریف کې د امارت سړک څخه تر پنجشېر ګذر پورې د سړک جوړولو چارې په چټکۍ سره روانې دي


بلخ ۲۸

د مزارشریف ښاروالی د پراختیایي بودجې څخه د ۱۱ میلیونو افغانیو په لګښت، د امارت له سړک څخه تر پنجشېر ګذر پورې د ۷۰۰ متره په اوږدوالي او ۹ متره په سور د i پروژې سړک د جوړولو چارې په شپږمه ناحیه کې په چټکۍ سره روانې دي.

یاده پروژه د کېندنې، خاورو لېږدولو، بستر جوړولو، د کانالونو جوړول، قیرریزی، کرښو اچولو او د یو معیاري سړک نور جزئیات پکې شامل دي، چې د کانالونو د جوړولو چارې یې د ښاروالی د موظف انجنیرانو تر څارنې لاندې په چټکۍ سره روانې دي.

## کار مارکیت غوربندها در شهر جدید بغلان مرکزی که به تعداد ٦٠٠ دکان را در بر می‌گیرند توسط شاروالی بغلان جریان دارد.


بغلان ۲۹

## کار عریض سازی و ساخت سرک اطراف چهارراهی فردوسی به مساحت ۹۰۲۵ متر مربع از بودجه انکشافی شاروالی مزارشریف به هزینه ۱۳،٦ میلیون افغانی به شدت جریان دارد که کار ساخت آبروهای آن تکمیل و کار کندن کاری سرک آن آغاز گردید.


مزارشریف ۳۰

## ګرشک ښار کې د تاریخ تېرو خوراکي توکو ضد اقدامات وشول


هلمند ۳۱

د هلمند ولایت ګرشک ولسوالی د ګډ پلټنې ټیم، چې د ښاروالی، قومندانی، صحت او ولسوالی استازي پکې شامل وو، د ښار په بازارونو کې د تاریخ تېرو خوراکي توکو د موندنې په موخه ناڅاپي پلټنه وکړه.

د پلټنې پر مهال هغه توکي چې نېټه یې تېره یا د حفظ الصحې شرایط یې نه درلودل، ونیول شول او ضبط شول.

مسؤولینو وویل: چې د خلکو روغتیا ورته لومړیتوب لري او ناقانونه کاروبار په هېڅ ډول زغملی نه شي.

## کار بازسازی چهارراهی کمال نبی زاده تکمیل و به بهره برداری سپرده شد


بلخ ۳۲

کار بازسازی، تنویر و تزئین چهارراهی کمال نبی زاده به هزینه ۵ میلیون افغانی توسط شاروالی مزارشریف با همکاری مالی شرکت کمال نبی زاده تکمیل و با حضور شاروال مزارشریف، کمال نبی زاده تاجر ملی، مسؤولین و شهروندان شهر مزارشریف به بهره برداری سپرده شد.

حافظ عبدالرحمن همت، شاروال مزارشریف از تاجران ملی اظهار خرسندی نمود که در راستای زیباسازی و آبادی شهر با ریاست شاروالی مزارشریف همکاری و نقش خویش را ایفا می‌نمایند.

## کمیته نظم شهری کمیسیون نظم و توسعه شهری در هماهنگی با مدیریت کنترل امور مارکیت‌ها، مدیریت انضباط شهری شاروالی میمنه موانع موجود در پیاده روهای جاده کوهی‌خانه و اطراف پارک مرکزی را پاک سازی نمودند.


فاریاب ۳۳


## چاه‌نجیر په مرکزي بازار کې شاوخوا ٦۰ متره کانګریټي ویالي کار پیل شو

د هلمند ولایت نادعلي ښاروالی له لوري په چاه‌نجیر بازار کې څه باندې ٦۰ متره ویالي کار پیل شو چې په جوړولوبه سره به یې د ښاریانو ستونزې حل شي.

د یادې پروژې مصارف به دنادعلي ښاروالی د پراختیایي بودجې څخه ورکول کېږي.

هلمند ۳۴

## تفاهم‌نامهٔ همکاری دو جانبه میان شاروالی میمنه و ریاست ارشاد، حج و اوقاف فاریاب به هدف تحکیم روابط شاروالی با شهروندان، دسترسی مردم به معلومات شاروالی از طریق مساجد، برجسته‌سازی نقش خطبای مساجد جامع در امور شهری و تقویت فرهنگ شهرنشینی به امضاء رسید.


تفاهمنامهٔ همکاری

میان

شاروالی میمنه و ریاست ارشاد، حج و اوقاف ولایت فاریاب

فاریاب ۳۵

## د جلال‌آباد ښار اوومه ناحیه کې د ښاري نظم او پلې لارو د خلاصون کمپاین ترسره شو


ننګرهار ۳٦

یاد کمپاین د ښاروالی مرستیال، د اوومې ناحیې امر، د مارکیټونو د تنظیم امر او نورو مسؤولینو په مشرۍ د دوسرکي چوک په سیمه کې ترسره شو.

ښاروالی د هغو پلې لارو پاکولو ته اقدام وکړ چې د دوکاندارانو لخوا نیول شوې وې. مسؤولینو د نظم ساتلو، چارو چټکولو او سیمې د معیاري جوړولو سپارښتنې وکړې.

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## د ښاروالیو چارو د سمون عمومي ریاست تخنیکي پلاوي د فراه ښاروالۍ له یو شمېر پروژو څخه لیدنه وکړه

د ښاروالیو چارو د سمون عمومي ریاست یو تخنیکي پلاوي فراه ولایت ته سفر وکړ او د فراه ښاروالۍ له بېلابېلو تطبیق شوو او روانو پروژو څخه لیدنه وکړه. لیدل شوو پروژو کې د باختر او معارف پلونه، د څلورمې ناحیې فټسال سالون، د دریمې او څلورمې ناحیو سړکونه، عسکراباد سړک او د ولایت مقام څخه تر باختر پله سړک شامل دي.

پلاوي د ښاروالۍ وروستي فعالیتونه وستایل، له یو شمېر سیمو څخه یې لیدنه وکړه او اړوندو مسؤولینو ته لازمې سپارښتنې هم وکړې.

فراه ۳۷

## کندهار ښار پنځمه ناحیه کې د کانال سنگ‌کاري چارې رواني دي



کندهار ۳۸

د کندهار ښاروالۍ د پراختیایي پلانونو په دوام، د پنځمې ناحیې څلورم گذر کې د ۷۶۰ مترو په اوږدوالي او ۹ مترو پلنوالي کانال سنگ‌کاري چارې پیل کړې دي.

یاد کانال چې د سېلابونو او اضافي اوبو د مدیریت لپاره جوړېږي، کارونه یې نږدې یوه میاشت وړاندې پیل شوي او ټاکل شوې چې په درې میاشتو کې بشپړ شي.

په دې پروژه کې ۱۴۷ کسانو ته کاري فرصت برابر شوی، او د سیمې اوسېدونکي یې له تطبیق څخه خوښ دي.

## قره باغ ښاروال د بازار له اصنافو سره ناسته ترسره کړه




کندهار ۳۹

په دې ناسته کې د اصنافو عمومي استازي گډون درلود، د غونډې پر مهال د قصابانو د صنف د تنظیم او د بازار د لا ښه‌والي په اړه هر اړخیز بحث ترسره شو او د گډونوالو نظریات یې واورېدل.

ښاروال مولوي معاذالله معاذ د گډونوالو وړاندیزونه وستایل او د ښاروالۍ له لوري یې د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ.

## تورخم ښاروالۍ د پروژو او کاري ساحو څخه نظارت ترسره کړ




ننگرهار ۴۰

د ننگرهار ولایت تورخم ښاروالۍ د ساختماني امریت مسؤولینو له لوري د ډکې او سرداري سیمو کې د روانو ساختماني پروژو کاري ساحو څخه نظارت تر سره کړ او د کارونو کیفیت یې له نږدې وځاره.

## ترینکوټ ښاروالۍ د ښاري نظم راوستو په موخه له دوو ناحیو څخه نظارت وکړ



ارزگان ۴۰

د روزگان ولایت ترینکوټ ښاروالۍ د ښاري نظم د ټینگښت او د پلي لارو د خلاصون په موخه، د ښاروال په ځانگړې هدایت د ښار اړوند لومړۍ او دوهمې ناحیې له یو شمېر هټیو څخه نظارت ترسره کړ.

په دې نظارت کې هغه هټۍ چې خپل اجناس یې په واټونو، سړک غاړو او پلې لارو کې ایښي وو، وخارل شوې او د اصولو خلاف هټۍ مهرلاک شوې.

یادې کمېټې دوکاندارانو ته د ښاریانو د اسانتیا لپاره د پلې لارو د خلاصون سپارښتنه وکړه.

## چمتلي ښارگوټي کې د نانوایانو څخه نظارتي ټیم د ډوډۍ د وزن ارزونه وکړه



ننگرهار ۴۱

د ننگرهار ولایت خوږیانو ښاروالۍ نظارتي ټیم د چمتلي ښارگوټي د نانوایانو له فعالیتونو څخه لیدنه وکړه. یاد نظارت د ډوډۍ د وزن کنترول او د نرخپاڼې له تطبیق سره د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ترسره شو، چې په پایله کې د نانوایانو ډوډۍ وزنونه د ښاروالۍ د لایحې مطابق و ارزول شول.

## هرات ښاروالۍ د پراختیایي پروژو د کار له بهیره په منظم او دوامداره توگه څارنه ترسره کوي



هرات ۴۲

د هرات ښاروالۍ اداري د سکټوري او ښاري خدمتونو امر د دغې اداري د انجنیرۍ لوی مدیر او ورسره مل پلاوي د کاریزک څخه بیا د شیدایي تر بازاره د نښلوونکي سړک د جوړولو او کانال رغولو پروژې د کار له بهیره څخه لیدنه او څارنه وکړه.

د ویلـو ده، د یادې پروژې ټولیز لگښت ۱۵،۵ میلیون افغانۍ دی، چې د هرات ښاروالۍ د روان کال پراختیایي بودجې څخه تمویلیږي.

شاروالی ولسوالی نهرین به منظور رفع مشکلات ترانسپورتی و تأمین سهولت‌های شهری، کار کانکریت‌ریزی سرک عمومی داخل شهر را همه روزه ادامه می دهد و یکی از پروژه‌های بنیادی به شمار می‌رود که زمینه رشد اقتصادی، افزایش داد و ستد تجارتی و انکشاف شهری متوازن شهری را نیز فراهم می‌سازد.

بغلان ۴۳

## تورخم ښاروالۍ د گردي بازار مشرانو سره د همغږۍ ناسته ترسره کړه




ننگرهار ۴۴

د ننگرهار ولایت تورخم ښاروالۍ مرستیال د گردي بازار له مشرانو او قومي مخورو سره د بازار د پراختیا او د پلي لارو د خلاصون په موخه همغږۍ ناسته وکړه.

په ناسته کې د ښاروالۍ مرستیال وویل: لوبې لارې او بازارونه د فرهنگ نمایندگۍ حیثیت لري، او له مشرانو یې وغوښتل چې له ښاروالۍ سره د ښاري نظم په ټینگښت او د غیرقانوني دوکانونو لرې کې مرسته وکړي.

## شاروالی بامیان به هدف ترویج و تقویه فرهنگ شهرنشینی تفاهمنامه سه جانبه را با ریاست معارف و ریاست اطلاعات و فرهنگ بامیان امضا نموده است و نمایندگان سه نهاد مذکور از مکتب های لیسه سرخدر، لیسه کارته صلح، متوسطه تی بوتی و لیسه ذکور مرکز بامیان دیدن نمودند.




## لښکرگاه ښاروالۍ کې اداري مجلس ناسته ترسره شوه




د هلمند ولایت لښکرگاه ښاروالۍ اداري ناسته د ښاروال حافظ صدیق صاحب په مشرۍ د ښاروالۍ په دفتر کې ترسره شوه.

په ناسته کې پر مختلفو موضوعاتو بحث وشو، اړوندو مدیرانو د خپلو کړنو راپورونه وړاندې کړل او د ځینو مواردو په اړه یې د لارښوونې غوښتنه وکړه.

د نظارت امر تینگار وکړ چې د عام‌المنفعه تاسیساتو د تخریب مخنیوی باید وشي.

په پای کې، ښاروال د ترسره شویو کارونو ستاینه وکړه، د ستونزو د حل ژمنه یې وکړه او له مسؤولینو یې وغوښتل چې د شفافیت او وخت پابندۍ ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

یاد مجلس د ښاروالۍ لخوا هره میاشت د همغږۍ او ستونزو د حل په موخه ترسره کېږي.

## شاروالی زرنج با وکلای گذر ناحیه دوم دیدار نمود که در آن نعمت‌الله عبیدی، مدیر عمومی ناحیه دوم شاروالی با وکلای گذر این ناحیه مورد فرمان شماره ۱۳، جلوگیری از ساخت و ساز، نگهداری پروژه ها و رعایت فرهنگ شهر نشینی بحث و تبادل نظر کرد.




## محمودراقي ښاروالۍ له لوري د شکایتونو څېړلو په موخه صندوقونه پرانیستل شو




د شکایتونو څېړل د ستونزو د حل په موخه یو مهم گام بلل کېږي د ښاریانو ستونزو ته د رسیدنې په موخه د کاپیسا ولایت محمودراقي ښاروالۍ کارکوونکو د محمودراقي ښار درې گونو ناحیو کې د شکایاتو صندوقونه خلاص او پکې موجوده ترلاسه شوي شکایات یې د شکایاتو څېړنې مؤظفې کمیټې ته وسپارل.

## گردیز ښار کې د نږدې ۲۵ میلیونه افغانیو په لګښت د یوې پروژې چارې پیل شوې




گردیز ښاروالۍ لخوا د گردیز ښار سړکونو بیا ځلې رغونې د ابادۍ پدې مراسمو کې د پکتیا مرستیال والي او گردیز ښاروال سربېره ګڼ شمېر گذر وکیلانو برخه اخیستې وه.

گردیز ښاروال غونډې ته د وینا پر مهال وویل چې د ښارې تأسیساتو او ښار سړکونو د ساتلو او په تګ راتګ کې د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه، د گردیز ښاروالۍ له لورې هغه سړکونه چې ساختمان یې نړېدلی، بیا رغول کیږي.

## جلسه اداری ریاست شاروالی انجیل ولایت هرات امروز برگزار شد و در مورد موضوعات مختلف بحث و تبادل نظر صورت گرفته و تصامیم لازم اتخاذ گردید.




## د مرکزي بغلان ښاروال ځوانانو ته د اقتصادي پیاوړتیا او ظرفیت لوړونې په غونډه کې ګډون وکړ




قاري لطف الله عبیده مسؤولینو ته ډاډ ورکړ چې ځوانانو ته د اقتصادي او علمي برنامو په پلي کولو کې دغه اداره له اړوندو بنسټونو سره همکاري کوي.

په دې برنامه کې د بغلان د سیمه‌ییزو مسؤولینو سربېره د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ځوانانو چارو مرستیال هم ګډون کړی و.


## خوست ښاروالۍ اداري ناسته ترسره شوه




خوست ښاروال مفتي شهزاد نور راشد د ښاروالۍ اداري مجلس نوبتي ناستې پیلیزو خبرو پر مهال د ټولو کارکوونکو د ترسره شویو چارو ستاینه وکړه او وې ویل چې د ښاروالۍ ټول کارکوونکي د ښاریانو په وړاندې د خدمت جدي مسؤولیت لري؛ ترڅو د هغوی ستونزو ته په وخت رسېدنه وشي او اړوند چارې یې په شفافه او اغېزناکه توګه ترسره شي.

وروسته د تېرې غونډې راپور شریک شو او په نویو موضوعاتو کې د ښاري نظم کمیسیون او له هغه څخه د کار اخیستلو لپاره د ښاري نظم د اصلاح طرحې لپاره د کمیټې ټاکل، چې یاده طرحه له جوړېدو وروسته به د ښاري نظم کمیسیون ته وړاندې شي.

## د مرکزي بغلان ښاروال ځوانانو ته د اقتصادي پیاوړتیا او ظرفیت لوړونې په غونډه کې ګډون وکړ




داغ‌گیری جاده انصاری مربوط ناحیه پنجم شهر هرات توسط شاروالی هرات با استفاده از امکانات تخنیکی و ماشینری موجود این اداره به پیش جریان کار و تمام سرک های آسیب‌دیده به گونه تدریجی داغ‌گیری و آسفالت می گردد.

## جلسه کمیسیون نظم و توسعه شهری شاروالی بازارک

پنجشــیر به منظور ایجاد نظم شهری در تالار جلسات مقام ولایت پنجشــیر با اشتراک والــی این ولایت و مســؤولین ادارات عضو دایر گردیــد و پیرامون تطبیق اصول و نظم در شـــهر و داشتن یک شهر پاک و منظم بحث و تبادل نظر گردید.




پنجشیر ۵۴

## مدیریت ناحیه پنجم شـــاروالی تالقـــان ولایت تخار با تلاش‌های پی‌گیر و همکاری تیم تخنیکی و تنظیف این

شـــاروالی مؤفق شد تا نل مسدود شـــده‌ای را که برای آبیاری و سرســـبزی چهارراهی گـــولای باغ این ولایت مورد اســـتفاده قرار می‌گرفت، به گونه اساســـی ترمیم نمایند.



تخار ۵۵

## فراه ښار کې د ښاروالۍ له لوري له پلي شویو پروژو څخه لیدنه او څارنه وکړه



فراه ۵۶

فراه ښـــار کې د ښـــاروالۍ له پلي شـــویو پروژو څخه د ښاروالۍ د مالي او محاسبې امر د ښاروالۍ ځینو مسؤولینو او انجنیـــری تیـــم غړو لـــه بېلابېلو پروژو لیدنه او شـــته نیمگړتیـــاوې یې په ډاگـــه او اړوندو مســـؤولینو ته یې ور سپارښتنې وکړې.

د ویلو ده چې د یادو مســـؤولینو له لوري په لومړۍ ناحیه کې د ویالـــو رغنیزې چارې د تـــاکلي کیفیت او معیار د نشتون له کبله ځنډول شوې.

## ترینکوټ ښار کې د شکایاتو صندقونه خلاص او شکایت‌پاڼې راټولې شوې




روزگان ۵۷

د روزگان ولایت ترینکوټ ښاروالۍ د ښاریانو ستونزو ته پر وخت رسېدنې په هدف، په ښار کې نصب شوي شکایاتو صندقونـــه خلاص او د ښـــاریانو لخوا پکې اچول شـــوې شکایت‌پاڼې راټولې شوې.

یاده کمېټه هر درې اونۍ وروسته د شکایاتو ارزونه کوي او د حل لپاره یې لازم اقدامات ترسره کوي.

ښاروال وویل: چې ټول شـــکایات به په دقت سره وڅېړل شي او د ښاریانو ستونزو ته به ژر رسیدنه وشي.

## فراه ښـــار کې د ښاري کلتور د رواجولو په موخه ناسته ترسره شوه



فراه ۵۸


د فراه ښـــاروالۍ د نهادونو له استازو سره د ښاري کلتور د رواجولو او عامه پوهاوي د لوړولو په موخه ناسته وکړه.

د ښـــاري حکومتولۍ امر: ښـــار د ټولو گډ کور وباله او د ښـــاري نظم، پاکوالي او پرمختگ لپاره یې د خلکو ونډه مهمه وبلله.

د ټولنیزو چارو مدیر وویل: دا ډول برنامې به دوام ومومي او گډونوالو له ښـــاروالۍ سره د ښاري کلتور د ودې په برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه.

په پای کې گډونوالو ته ډالۍ او واسکټونه هم ووېشل شول.

## اعضای کمیته تنظیم شـــهر شـــاروالی قلعه نو ولایت بادغیس امروز ســـه شنبه از جاده های عمومی، مارکت ها و بازار شـــهر قلعه نو دیدن نمودند و با شـــهروندان بخاطر تنظم امور شـــهری و انتقال چرخداران و بساط داران در جاهای تعین شده صحبت کردند.



بادغیس ۵۹

## موټر پلورنځیو انتقال په اړه ناسته ترسره شوه



فراه ۶۰

فراه ښاروال، ښاري حکومتولي امر او انجنیرۍ مدیریت په گـــډون د کوچنیو موټرونو پلورنځیـــو د ټولنې له رئیس او استازو سره له څلورمې ناحیې څخه د باغپل اړوند د نوروزي د دوه لارې ته څېرمې سیمې ته د موټر پلورنځیو د لېږد په اړه ناسته ترسره شوه.

ناســـتې ته دواړه لوري د شـــل کلن قـــرارداد له مخې د ټرافیکي گڼې گوڼې د مخنیوي، ښاري پراختیا، ښکلا او د ولسي وگړو د پرلپسې غوښتنو پر بنسټ، د موټرونو د لېږد یـــوې منلي پرېکـــړې او هوکړې ته ورســـیدل او په نږدې راتلونکي کې به یې د لېږد چارېرسماً پیل شي.

## لښکرگاه ښار او باباجي ولسوالۍ داخلي دروازه گټې اخیستنې ته وسپارل شوه




هلمند ۶۱

د هلمند ولایت لښکرگاه ښار او باباجي ولسوالۍ ترمنځ نوي داخلي دروازه، چې د ښاروال په هدایت او د هلمند بارک فولاد صنعتي شرکت په مالي لگښت جوړه شوې او په رسمي مراسمو کې پرانیستل شوه.

د ولایت مرستیال والي او ښاروال د پروژې د پلي کېدو هرکلی وکـــړ او له پانگوالو یې د همـــکارۍ مننه وکړه.

ښـــاروال له ټولو تجارانو وغوښتل چې د ته ورته پروژو په پلي کولو کې ونډه واخلئ.

## جلال‌اباد ښـــاروال د ۴۰ متره حلقوي سړک د مسیر د پاکولو له چارو لیدنه وکړه



جلال اباد ۶۲

د جلال‌اباد ښاروال قاري بلال د ښار د ۴۰ متره حلقوي سړک د لومړي پړاو د مسیر پاکولو له چارو لیدنه وکړه او مسوولینو ته یې د چټک کار سپارښتنه وکړه.

یاد ســـړک چې ۲۱ کیلومتره اوږدوالـــی لري، د اوومې ناحیې له سرخـــاب پله پیل او تر نهمـــې ناحیې سرخ دیوال پورې غځېږي، او د ۱۳۹۲ کال ماســـټر پلان له مخې ترتیب شوی دی.

**د کابل قرباغ ښاروالۍ کې د ښــاروال مولوي معاذالله معاذ په مشرۍ نوبتي اداري ناسته ترسره شوه.**
**د چارو د چټکتیا، ښــه خدمت، او لــه مراجعینو سره د غوره چلند ټینګار وشو.**
**ښــاروال: هــر کارکوونکــی د خپلې دنــدې له مخې صلاحیت لري.**



قرباغ/کابل ۶۳

### ګرشک ښاروالۍ له لوري دښاریانو د روغتیا او خوندیتوب لپاره مهم ګام



هلمند ۶۴

د هلمند ولایت ګرشــک ښاروالۍ له لوري د ښار درېیمې ناحیه اړوند عمده پلورونکي او دوکانونه څخه تر وخت تېر، بې کیفیته او تقلبي خوراکي او غیر خوراکي توکي راټول شوه.

**د روزګان ولایت ترینګوټ ښــاروال ځانګړي هدایت پر بنسټ، د صنف بندیو نظم کمېټــې د اوړو، کیمیاوي سرې او ســمنټو د ناقانونه پلور د مخنیوي لپاره نظارت وکړ.**
**کاروباریــان د ټاکلې مندۍ څخــه بهر د پلور څخه منع شول.**



روزګان ۶۵

### د پل علم ښــار اړوند عمومي سړک د بیارغونې افر پرانېستې غونډه ترسره شوه



لوګر ۶۶

د افر پرانېســتې دا غونډه د ښاروالیو چارو سمون عمومي رئیس مولوي محمد اســحق "اخندزاده" عملیاتي رئیس قاري عبدالمتین "رحیمزي" او د پل علم ښــاروال مولوي محمد شاکر "ثاقب" په شتون کې د ټاکل شوي هیئت تر څار لاندې نن ورځ (سه شنبه ربیع الاول ۳۰مه) د ښاروالیو چارو سمون په عمومي ریاست کې د یو شمېر داوطلبانو په حضور کې ترسره شوه.

### پلخمري ښــار کې د ښاري فرهنګ دودولو په موخه د پاکوالي عمومي اشر ترسره شو




بغلان ۶۷

د یاد اشر لپاره لومړی د ښاروالۍ په انګړ کې د ښاروال په شــتون او د امارتي ادارو له ځینو رئیسانو، خوانانو، سپین ږیرو، د ګذر وکیلانو، رسنیو او د ښاروالۍ امرینو په ګډون ناسته وشوه.


بیا د عملي ګام پورته کولو سره ښــار ته ولاړل ترڅو د ګڼ شمېر اوســېدونکو په ملاتړ د ښار ټوله سیمه د کثافاتو او خځلو څخه پاکه کړي او ښاریانو ته دي یادي برنامې پوره پیغام ورسوي. څنګه چې ښار دي ټولو کور دی نو پکار ده چې په ګډه خپل ښــار پاک وســاتو او د سرسبزۍ اړوند بدلونونه په کې راولو.

**اعضای کمیته تنظیم شــهر شــاروالی قلعه نو ولایت بادغیس امروز ســه شنبه از جاده های عمومی، مارکت ها و بازار شــهر قلعه نو دیدن نمودند و با شــهروندان بخاطر تنظم امور شــهری و انتقال چرخداران و بساط داران در جاهای تعین شده صحبت کردند.**



بادغیس ۶۸

### غزني ښــاروالۍ له لوري د خداداد لویه ویاله د کثافاتو څخه پاکه شوه



غزني ۶۹

د غزني ښــاروالۍ ریاســت د دویمــې ناحیې د تنظیف مدیریت د څلورمې او پنځمې ناحیو د تنظیف له کارکوونکو سره په ګډه د خداداید لویه ویاله د څو ورځنیو هڅو په ترځ کې له کثافاتو پاکه کړه.

مولوي شــجاع خان احمد د دویمې ناحیې مدیر وایي د یادي ســیمي پاکوالی د دریو ناحیــو د ګډو هڅو په مټ ترسره شو.

### د مرکزي بغلان ښاروال د ښاري صفایی د پیاوړتیا په موخه له ګذر وکیلانو سره ناسته وکړه




بغلان ۷۰

د مرکزي بغلان ښــاروال قاري لطف‌الله عبیده د ښار د پاکوالي او ښاري خدمتونو د ښه‌والي په موخه د ګذرونو له وکیلانو سره ناسته وکړه.

په دې غونډه کې ښــاغلي عبیده د ښــاري صفایی پر ارزښت او اړتیا خبرې وکړې او ټینګار یې وکړ چې د ښار پاکوالی یوازې د ښاروالۍ دنده نه ده، بلکې د ټولنې هر وګــړی باید د چاپېریال په پاک ســاتلو کې خپله ونډه واخلي.

### د کرایې د کنټرول په موخه غونډه ترسره شوه



هرات ۷۱

هرات ښاروالۍ کې د استوګنځایونو د کرایې د کنټرول په موخــه غونډه وشــوه. غونــډه د عدلیــې وزارت د لارښــوونې پر بنسټ، د ۱۰ سلنې څخه د زیاتو کرایو د مخنیوي لپاره جوړه شوې وه.

غونډه کې پریکړه وشوه چې ځانګړې پلاوی به د کرایې موجود نرخونــه وڅېړي، او د تخلف پــه صورت کې به قانوني اقدام کوي. ګډونوالــو د طرحې ملاتړ وکړ او د همکارۍ ژمنه یې وکړه.

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبرې اونیزه

شاروالی فیروزکوه به منظور تقویت و رعایت فرهنگ اسلامی و شهر نشینی توسط شاگردان مدارس، مکاتب و شهروندان در شهر فیروزکوه با ریاست های معارف و اطلاعات و فرهنگ فیروز کوه تفاهمنامه به امضاء رساند.


غور ۷۲

د هلمند ولایت نادعلي ولسوالۍ کې د امیرالمؤمنین حفظه‌الله د ۲۰م ګڼه فرمان په اساس، د ښاري پلانونو اړوند د عامه پوهاوي په هدف د بازار وکیلانو او دوکاندارانو سره د نادعلي ښاروالۍ له لوري غونډه ترسره شوه. ګډونوالو خپل نظرونه هم شریک کړل.


هلمند ۷۳

کمپاین پاک‌کاری تحت عنوان "شهر ما، خانه ماست؛ آنرا پاک نگهداریم" به‌منظور تأمین پاکی و نظافت، ترویج فرهنگ رضاکاری، نهادینه‌سازی فرهنگ شهرنشینی و ارتقای سطح آگاهی شهروندان توسط مؤسسه اجتماعی جوانان (Hysio) در هماهنگی با شاروالی میمنه و ریاست کار و امور اجتماعی فاریاب در سطح شهر میمنه راه‌اندازی گردید.


فاریاب ۷۴

## د قرغیو ښاروالۍ د خبرو اترو پروګرام غونډه ترسره شوه


لغمان ۷۵

د چارو ادارې لوی ریاست د هدایت پر اساس، د لغمان ولایت قرغیو ښاروالۍ په نوښت د ولس او حکومت ترمنځ د اړیکو پیاوړتیا په موخه د خبرو اترو پروګرام اړوند غونډه وشوه.

یاده غونډه د ښاروالۍ په انګړ کې جوړه شوې وه، چې پیل کې يې د دې ښاروالۍ ښاروال د ښه راغلاست ترڅنګ په یاده موضوع هر اړخیز بحث وکړ او دا پروګرام یې د حکومت او ولس ترمنځ د واټن له منځه وړلو لپاره یوه اغېزناکه هڅه وبلله.

دې غونډه کې د امنیتي ادارو، پوهنې، روغتیا، اقتصاد، فرهنګ او چاپېریال ساتنې اداري مسؤولینو ګډون کړی و، چې هر یوه خپلې لاسته راوړنې، ستونزې او راتلونکي طرحې له ګډونوالو سره شریکې کړې.

همدارز، د ښاروالۍ مشورتي بورډ، د ځوانانو، قومي استازو، دیني عالمانو او نورو برخو استازو، خلکو ته د خدمتونو وړاندې کولو او ولسي غوښتنو په اړه څرګندونې وکړې، چې ګډونوالو د اړوندو موضوعاتو په اړه پوښتنې مطرح کړې او مسؤولینو ورته قانع کوونکي ځوابونه ورکړل.

"کمپاین پاک‌کاری شهرما خانه ماست، آنرا پاک نگهداریم" در شهر ایبک با حضور جوانان رضاکار توسط دفتر هایسو با حمایت دفتر یونیسف در هماهنگی شاروالی ایبک به هدف ارتقای سطح آگاهی عامه جهت نظافت شهر، تشویق جوانان به مشارکت در امور اجتماعی و ایجاد محیط سالم برگزار گردید.


فاریاب ۷۶

## د ښاروالۍ مسؤولینو د بې‌پولي ډاکترانو له استازو سره وکتل

د هلمند ولایت لښکرګاه ښاروالۍ اړوند د ښاري حکومتولۍ امر د ګذر د وکیلانو په ګډون د بست ولایتي روغتون د MSF مؤسسې روغتیایي استازو سره ناسته وکړه.

په دیاد مجلس کې د بست ولایتي روغتون وروستۍ لاسته راوړنې وړاندې شوې او د ګذر وکیلانو لخوا د ولسونو ستونزې شریکې شوې، چې د حل لپاره ډاډ ورکړل شو.

د ښاري حکومتولۍ امر د روغتیایي استازو له هڅو مننه وکړه او د همکارۍ ژمنه یې وکړه.

یادونه: د لښکرګاه ښاروالۍ اړوند د ښاري حکومتولۍ مسؤلین د ښاروال په هدایت د ولسونو د ستونزو د حل لپاره له ټولو ښستونو سره ناستې ترسره کوي.

هلمند ۷۷

## د مهترلام ښاروالۍ نوبتي اداري ناسته ترسره شوه


لغمان ۷۸

د لغمان ولایت مهترلام ښاروالۍ نوبتي اداري ناسته د مهترلام ښاروال په مشرۍ د ښاروالۍ د امرینو او مدیرانو په ګډون ترسره شوه.

ناسته کې د امرینو او مدیرانو له لوري د تېر اداري مجلس راپور وړاندې شو او همدارنګه یو شمېر مهم موضوعات هم د بحث او کتنې لاندې ونیول شول، څو د راتلونکي لپاره پرې اغېزمن پلانونه جوړ او عملي شي.

ښاروال وویل چې سږکال به د ښاروالۍ په لګښت د ښار په بېلابېلو ځایو کې بلبورډونه هم ولګول شي، تر څو له یوه اړخه ښار ښکلی او له بله پلوه د ښاروالۍ عوایدو کې زیاتوالی راشي.

په پای کې ښاروال یو شمېر مشخصې دندې اړوندو امرینو او مدیرانو ته وسپارلې او سپارښتنه یې وکړه چې تر راتلونکي ناستې پورې د هغو د ترسره کولو راپور ورسره شریک کړي.

کندهار ښاروالۍ د ټولو تخنیکي او اداري کارمندانو لپاره د ظرفیت لوړونې ورکشاپونه پیل کړل.
هدف: د پروژو کیفیت ښه کول، د کارونو چټکتیا او د ځنډ مخنیوی.

کندهار ۷۹

د مرده کشــانو له پله څخه د غیاثیې تــر پوهنتون پورې د سړک د اسفالټ پروژې د کیندنې چارې په خورا چټکۍ سره رواني دي.



هرات ۸۰

پروژه ۲۰۰۰ متر اوږدوالی او ۷ متر پلنوالی لري، چې د ارتیــا وړ پلچکونو جوړولو په ګډون د هرات ښــاروالۍ پراختیایي بودجې څخه د شاوخوا ۲۴ میلیون افغانیو په ارزښت د هرات ښــاروالۍ پنځمي، اتمې او پانځلسمې ناحیو اړوند ساحاتو کې پلي کېږي.

د ویلو ده، چــې د تخت صفر څخه تر مرده کشــانو د ســړک د لومړۍ برخې د زیر سازۍ او اسفالټ پروژه د ۲۵۰۰ متر پــه اوږدوالي او ۷ متر پلنوالي سره د هرات ښــاروالۍ پراختیایي بودجې څخــه د ۳۳،۵ میلیون افغانیو په ارزښت د ټولګټو ریاست له لوري د پلي کېدو په حــال کــې ده او په لنډ وخــت به بشــپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

کندهار ښــار کې د نوشیجان ویالې د سنګ کارۍ کولو چارې ۷۰ سلنه بشپړې شوې دي. د ویالې د دیوالونو په شمول، شاوخوا ۵۵۰ متره اوږدوالی، ۷ متره پلنوالی او ۳ متره ۳۵ ســانتي جګوالی لــري. د دې ویالې رغنیزې چارې ۲ میاشتې مخکې پیل شوې دي او پاتــه کارونه به یې د یوې میاشتې په موده کې بشپړ شي. یاده پروژه د ښاروالۍ له لوري تمویل کېږي.



کندهار ۸۱

د روزګان ولایت ترینکوټ ښاروالۍ د مالي او اداري مدیر په مشرۍ د ناحیو ګذر وکیلانو سره د ښاري ستونزو حل او خدمتونو ښه والي لپاره ناسته وکړه. ګذر وکیلانو ژمنه وکړه چې بشپړه همکاري به کوي.

روزګان ۸۲

کار آســفالت لایه دوم لین شمال سرک تانک مولوی از مســیر تانک آریا تا پل جبرئیل مربوط نواحی دوازدهم و سیزدهم شــاروالی هرات بههزینه بیش از ۴۲ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی هرات به طول ۲۶۰۰ متر در عرض ۱۰.۵ متر با سرعت جریان دارد.



هرات ۸۳

اسعداباد ښاروالۍ کې د مراجعینو د خدمتونو ګرځنده مرکز فعاله شو




کونړ ۸۴

د کونړ ولایت اسعداباد ښاروالۍ مراجعینو د خدمتونو ځانګــړي کــړنلارې لمخې د اســعداباد ښــاروالۍ د مراجعینــو خدمتونــو ګرځنــده مرکز چې د ښــاریانو غوښتنو،ســتونزو او شــکایتونو اوریدنې تــه پر وخت رسیدګي کوي فعاله شو.

کندهار ښــار کې د نوشــیجان ویالې د سنګ کارۍ کولو چارې ۷۰ ســلنه بشپړې شــوې دي. د ویالې د دیوالونو په شمول، شــاوخوا ۵۵۰ متره اوږدوالی، ۷ متره پلنوالی او ۳ متره ۳۵ سانتي جګوالی لري. د دې ویالې رغنیزې چارې ۲ میاشتې مخکې پیل شوې دي او پاتــه کارونه بــه یې د یوې میاشــتې په موده کې بشــپړ شي. یاده پروژه د ښــاروالۍ له لوري تمویل کېږي.



کندهار ۸۵

بهمنظور بررســی و تثبیت زمینهای غصبشــده در مناطق مختلف ولایت پروان، جلسهای با حضور هیئت تخنیکی مربوطه در مقر شاروالی چاریکار برگزار گردید و در آن در مورد شناســایی و تثبیت ملکیتهای غصب شده در نقاط مختلف پروان، بررسی دوسیهها و مسائل مرتبط بحث و تبادل نظر صورت گرفت.



پروان ۸۶

روضې مبارکې شــاوخوا د اتــه (۸) منارونو جوړولو چارې د نوي نقشې او ډیزاین مطابق پیل شوې



بلخ ۸۷

د مزارشریف ښــار ښــکلا او ښې بدلولو په موخه، د روضې مبارکې شــاوخوا د اته (۸) منارو جوړولو چارې د نوي نقشــې او ډیزاین مطابــق د بلخ ولایت محترم والي د لارښوونې پر بنســټ، د مزارشریف ښاروال په هڅو او د خصوصي سکتور په همکارۍ پیل شوې.

د نوي نقشې او ډیزاین مطابق د اته منارو جوړول کې د مرمرو ډبــرو لګول، د روښــنایی او تزیین څراغونو نصب او رنګمالۍ چارې شاملې دي، چې د ښاروالۍ د موظف انجنیرانو تــر څارنې لاندې به په ۴۵ کاري ورځو کې بشپړ شي.

د یادو منارو په جوړېدو سره به په سیمه کې ځانګړې ښکلا رامنځته د ښاري نظم او د وسایطو د تګ راتګ لپاره به ګڼې اسانتیاوې برابرې شي.

اعضای کمیسیون جلوگیری از احتکار و گران فروشی شاروالی قلعه نو ولایت بادغیس به سلسله نظارت ها از نرخنامه کمیسیون، امروز چهارشنبه از نانوایی های شهر قلعه نو نظارت نمودند.

بادغیس ۸۸